DAILY
اراده
د افغان نشراتی مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

سال پنجم شماره ۱۳۸
شماره مسلسل ۷۶۴
سه‌شنبه ۱۷ جوزا ۱۳۸۴ هـ ش
۲۸ ربیع‌الثانی ۱۴۲۶ هـ ق
7 June, 2005

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

قوماندان بشیر
با فیصله های دولتی سرسختانه مخالفت می کند
هیچکس محمود خان را محاکمه کرده نمیتواند

بشیر چاه آبی یکتن از قوماندانان محلی ولسوالی چاه آب ولایت تخار. با تغییرات اداری در آن ولسوالی که از سوی هیئت دولت مرکزی صورت گرفته. مخالفت نموده است

این درحالیست که مسؤولین ولایت تخار میگویند که آنها با این قوماندان در مذاکره بوده اند. اما مذاکرات آنها نتیجه نداده است.

بشیر چاه آبی که یکتن از قوماندانان سابق جمعیت اسلامی و شخص زورمند در آن ولسوالی محسوب میشود. به آژانس خبری پژواک اظهار داشته که باید داکتر جنید ولسوال برکنار شده چاه آب دوباره مقرر گردد.

همچنان این قوماندان هشدار داده است: «در صورتیکه جُرم محمود خان یکتن از قوماندانان محلی آن ولسوالی تثبیت نه شود. هیچکس محمود خان را محاکمه کرده نمی تواند.» ص۴

مشکل شهرک ده سبز حل گردید!؟

سرمایه گذاران شهرک ده سبز با معاون اول ریاست جمهوری به تفاهم رسیدند که خانه های ساخته شده فعلی در شهرک ده سبز شامل ماستر پلانی شود. که از سوی دولت طرح خواهدشد سید همایون رئیس شرکت لیگو (LEGO) و نمایندهٔ سرمایه گذاران شهرک ده سبزبه آژانس خبری پژواک گفته است که روز ۱۴ جوزا. با احمدضیا مسعود معاون اول ریاست جمهوری و رئیس کمیسیون تعیین شده برای حل مشکل شهرک ده سبز دیداری داشتندو در نتیجه تصمیم گرفته شد که شهرک های فعلی اعمار شده در ماستر پلان دولت گنجانیده شود. ص۴

درې سرتیري تېیان شول

دزابل په ولایت کې په هندی کارکوونکو باندې دطالبانو دپاتې شونو په بریدونو کې دهیواد درې امنیتی کسان ټپیان شوی دی تیره ورځ دمازیګر په پنځو بجو دغه پیښه دزابل دنورک په سیمه کې په داسې حال کې رامنځته شوه چې دسړک جوړونې هندی کارکورنکی دکابل - کندهار پر سړک تګ راتګ کاوه دزابل دوالی ویاند ګلاب شاه علی خیل ددغه خبر په تایید سره ویلی دی

مخ

دپکتیکاوالی:
له پاکستان څخه زموږ ولایت ته طالبان را اوښتي دي

دپکتیکا ولایت والي ادعا کوي چې په دې وروستیو کې یوځل بیا د پولې له هغې خوا (پاکستان) څخه پکتیکا ولایت ته دطالب جنګیالیونوي ګروپونه راداخل شوي دي

مخ

خلکو په ما انعام اخیستی
خوزه ملا عمر نه یم



د سیدګل آغا پر وینا هغه کسان چې دده عکسونه یې د طالبانو د مشر ملا محمد عمر په نوم امریکایانو ته سپارلي او په مطبوعاتو کې یې چاپ کړي باید محاکمه کړل شي

په نوښت مجله کې چې په پاکستان کې چاپیږي دکندهار د ډنډ ولسوالی د اوسېدونکي سید ګل آغا عکس د طالبانو د مشر ملا محمد عمر په نوم نړدې دوه نیم کاله وړاندې او په پاکستانی ایکسپرس ورځپانه کې د روان کال د غویي په شلمه چاپ شوی دی

مخ

سرمقاله

ځینې وسله وال لاشته چې دمرکزي دولت داوامرو منلو ته تیار نه دي

مورِ له پرونیو جګړو، جنګ سالارانو خپل سریو او بې قانونی څخه دخلاصون په خاطر پتیلی ده چې په هیواد کې دسراسری امنیت او قانونیت په شته والی کې په یوه مرکزیت راتړل اوددموکراسی د اصولو او مقرراتو په چوکاټ کې دیوه تقنینی ارګان تر سیوری لاندې وړاندې لاړ شو.

او په همدغه موخه مو دادی دپارلمانی انتخاباتو دکیدون لپاره تیاری نیولی او په همدغه تیاری کې دپارلمان لپاره دکاندیدانو ابتدایی لست اعلام شو چې دسرطان دمیاشتې تر یوولسمې پورې هیوادوال کولای شي په اوسنیو کاندیدانو باندې خپل اعتراض لیکونه دانتخاباتو کمیسیون ته وسپاري.

خو په دې انتخاباتو کې داسې ښکاري چې ډیر کسان په نومورو کاندیدانو باندې خپل عرایض تاکل شوی اداری ته نشي وړاندې کولی ځکه چې له یوې خوا دانتخاباتو په کمیسیون باندې په لومړی پیل کې دخلکو انتقاد دادی چې د وکالت لپاره دکندایدانو زیات خپلوان دبیلابیلو ارتباطاتو له مخې دانتخاباتو په کمیسیون کې ځای په ځای شوی دی چې دخلکو د عرایضو په صورت کې خلك په خپله غوښتنه باندې نشي بریالی کیدای چې دداسې ارتباطاتو نښې نښانې یې په خوست کې ښه بیلګه بللای شو. ۴مخ

دوه تنبتول شوي ماشومان پلرونو ته وسپارل شول



دبلخ ولایت نه پاکستان ته تنبتول شوي دوه ماشومان دغبرګولي پر ۱۲مه په پېښور کې دافغان قونسلګرۍ له لورې خپلو کورنیو ته وسپارل شول.

دغبرګولي په لومړۍ نیټه دافغانستان دبلخ ولایت دکلفت بندر دچارسرکې له سیمې څخه دوه ماشومان هریو شریف الدین دنجم الدین زوی اوضیاالدین دنظام الدین زوی چې درحمان برفي اوځلورو نورواندیوالانو په مرسته پاکستان ته تنبتول شوي وو دغبرګولي پر ۱۲مه دپاکستاني پولیسو له خوا ترژغورنې وروسته په پېښور کې افغان قونسلګرۍ ته سپارل شوي وو.

په پېښور کې دافغانستان جنرل قونسل حاجي عبدالخالق فراهي ددې دواړو ماشومانو دژغورنې په اړه دپاکستان دپولیسو له همکارۍ نه مننه وکړه اوددې ترخنګ یې دپاکستان له دولت او پولیسو څخه هیله وکړه چې ددې تنبتول شویو ماشومانو دمجرم رحمان برفي په اړه دې خپلې پلټنې ګړندی کړي. ۴مخ

مدیر مسؤول هفته نامه آفتاب لت و کوب شد

سید میر حسین مهدوی مدیر مسؤول هفته نامه آفتاب (آفتاب در تبعید) در شهر هملتون کشور کانادا از سوی افراد ناشناس لت و کوب شد

وی در یک مصاحبه تلیفونی گفته است که به تاریخ ۱۲ جوزا در محفلی که از طرف انجمن قلم کانادا تدویر یافته بود. در رابطه به حادثه ۱۱ سپتامبر و پیامدهای آن در افغانستان سخنرانی کرده بود

مهدوی افزود که در همین روز بعد از خریداری دو بازار، در پارکینگ موترها بالای وی حمله صورت گرفت ص۴

سناتور امریکایی
خواستار برچیدن زندان گوانتانامو شد

یک سناتور برجسته امریکایی که در کمیته روابط خارجی سنا عضویت دارد گفته است که ایالات متحده باید زندانش در خلیج گوانتانامو را برچیند.

سناتور جوزف بیدن از حزب دموکرات گفت جنجالی که بر سر این زندان پدید آمده. سبب می شود تا امریکایی ها به جای آنکه از تهدید تروریزم مصون شوند. بیشتر در معرض خطر قرار بگیرند.

او گفت بررسی و مطالعه درباره آینده این اردوگاه ضروری است صدها تن از کسانی که مظنون به اقدامات تروریستی دانسته می شوند. ص۴

عوامي نیشنل ګوند له افغانستان سره خپل یو والی څرګند کړ

دپاکستان د عوامي نیشنل ګوند مشرانو دغبرګولي پر ۱۴مه له افغانستان سره خپل یووالی څرګند او دواړو هیوادونو ترمینځ یې دا رېکود لا نوره والي لپاره ځینې وړاندیزونه اعلان کړل.

دپاکستان د مخور ملت پاله ګوند چارواکو دغبرګولي په ۱۴مه پېښور کې د یوې خبري غونډې په ترڅ کې دافغانستان دولت سره په خپل یووالي تینګار وکړ او دواړو هیوادونو ترمینځ یې د هماغسې اړیکو غوښتنه د پاکستان له دولت نه وکړه لکه دهندوستان او د پنجاب ایالت پنجابیان یې چې په خپلو منځو کې لري. ۴مخ

یو کیسه به درته وکړم

ت. حضرتی

یو غریب مسکین په لاره روان و یو بدماش، ظالم، بی فکره او بی اندیشه یو انسان په آس سپور دی او ددې غریب مسکین تر مخې تیریږي نو ناڅاپه یې دا مسکین داسې په لخته وواهه او بی عزته یې کړ چې زما د مخې لرې شه مسکین ددې وهلو او بی عزتی په مقابل کې ورته داسې دعا وکړه چې ای بدماشه خدای دی پاچا کړه د غریب دعا خدای (ج) قبوله کړه دا بدماش پاچا شو.

پاچاهی شروع شوه، لنګر روان دی د ټولو ملت حق خوړل کیږي پاچا د پاچاهی په تخت ناست، غرور کوي، چې زه یو بدماش د یو لوی جمعیت پاچا شوم حساب او کتاب نشته دفتر نشته، لیکل نشته، بدماشان ناست دي، چرسونه وهي

شراب خوري، سندری وایي یو بی سرحده ازاد ژوند منځ ته راغی هر چرې چې بدماشان خبریږي راځي مقام اخلي چوکۍ اخلي په لویو، لویو موټرو کې ناست دي چکر وهي په باغو کې ګرزي خو یو ورځ دده د حکومت کلیزه نمانځل کیږي ټول په یوه ځای کې راجمعه شول هر یو د خطابی میز ته ودریږي خپل اشعار وایي خوشحالی کوي خو په ضمن کې یو کس ددې پاچا څخه پوښتنه

کوي چې ای عالیقدره پاچا صاحب زه یو سوال لرم په رښتیا سره یې ځواب راکړه چې ته دی مقام ته څنګه ورسیدی هغه وویل چې زما فکر ته خو اوس راغلل چې ماته یو ملنګ، غریب او مسکین سړي دعا کړی وه چې خدای دی پاچا کړه او زه پاچا شوم

او بیا مې هغه سپین ږیری ونه لید امر یې وکړ چې په فلانی منطقه کې یو سپین ږیری ملنګ دی هغه پیدا کړی او ماته یې راولی.

انظباطانو هغه سپین ږیری پیدا کړ او د پاچا حضور ته یې راوست پاچا ورته پاڅیده او د سپین ږیری احترام یې وکړ چې ای ملنګ بابا ته ولی تر اوسه زما دربار ته رانه غلی او نه دی زما د لنګر څخه څه وخوړل هغه ورته وویل چې دا لنګر خو ستاسو نه دی دا د غریبانو او بیچاروو حق دی چې ته یې خوري ده ورته وویل چې ملنګ بابا سم ګړیږه زه اوس پاچا یم وغواړه څه غواړی ملنګ بابا ورځخه مال نه غواړي، دنیا نه غواړي، ځمکه نه غواړي، پیسې نه غواړي، مقام نه غواړي، موټر نه غواړي. فقط پاچا ته وایي چې زه در څخه یو من لړمان غواړم پاچا په خندا شو چې ملنګ بابا دا ته څه وایې هغه ورته وایي چې زما یوه خبره ده، یو من لړمان ماته هر څه دي. لنډه دا چې پاچا امر وکړ چې په یو ساعت کې یومن لړمان حاضر کړی چې ملنګ بابا یې غواړي، عسکر او فوځي قطی ورپسې ورګزیدی بغیر د یو څو دانو لړمانو څخه یې نور څه پیدا نکړل فوځ راغی چې مونږ نور څه پیدا نکړل. ملنګ بابا ته عذر وشو چې نور څه وغواړه. منلګ بابا ورته وویل چې پاچا صاحب راځه غواړی درته پیدا کړم، په ټنو ټنو به یې درته د خیره وښایم، یوې هدیرې ته یې پاچا د ځان سره یوړ. ملنګ خپله امساد یو قبر په منځ کې ووهله قبر سوری شو داسې لړمان ورڅخه راووتل چې خلك یې په مردارولو ستومانه شول.

پاچا ملنګ ته مخ راوګرزاه چې دا څه دي وکړل. ملنګ ورته وویل چې ددې قبر اوسیدونکي هم ستا په شان پاچا و. د ملت حق یې خوړلو بیا به یې افتخار کولو، د کونډ، یتیمانو حق به یې خوړلو هیڅ د انسان په سترګه به یې ورته نه کتل. پاچا اداره نه درلوده، ملګری او دوستان یې نه درلودل چې د پاچاهی په نظم او دسپلین کې ورسره کمك کړی وی اخیر مرګ ورته راغی دغه قبر یې مقبره ده الله پری لړمان حواله کړل چې د خلکو حق ته یې حق نه ویل او پاچاهی یې خپل قانونی حق ګڼلو.

نوربیا

خلکو په ما انعام اخیستی،،

ګل آغا له پڑواک خبري آژانس سره په یوه ځانګړې مرکه کې ویلي چې د کندهار اوسېدونکو خالد احمد او نقیب الله څه د پاسه دوه کاله وړاندې په دې پلمه چې عکسونه یې د یادښت په توګه له ځان سره ساتي ،دده اود نوموړې سیمې یو بل تن حاجی شهزاده عکسونه واخیستل دده د معلوماتو له مخې له خالد احمد سره هېڅ اړیکې نه لري او نقیب الله د حاجی شهزاده اوښی دی نوموړی ادعا کوي چې خالد احمد ته امریکایانو پر دې بدل کې چې دده تصویر یې په غلطه د ملاعمر په نوم ورته سپارلی ، سیاسي پناه ورکړې او دا مهال په امریکا کې ژوند کوي.

خو په کابل کې د ائتلافي ځواکونو ویاندې سنډي مور (Sindy More) په دې اړه وویل چې ، دوی نه شي کولای په انفرادي ډول د بندیانو په ټړاو معلومات ورکړي.

ګل آغا وایي چې یوه میاشت وروسته له هغې چې عکسونه یې واخیستل شول حاجی شهزاده د شپې پر یوه بجه د امریکایانو له خوا ونیول شو اودامریکایانو د ګوانتانامو او بګرام په زندانونو کې له ۲۲ میاشتې بند وروسته نږدې یوه میاشت وړاندې خوشې شو

دده دمالوماتو له مخې حاجي شهزاده دطالبانو دواکمنۍ پر مهال دهرات دوالي خیر الله خیرخواه په نوم نیول شوی و.

دده پروینا کله یې چې تصویرونه په مطبوعاتو کې چاپ شول د خپل کور پرېښودو ته اړ شو او په پټه یې ترننه د کندهار په بنار کې ژوند کاوه

نوموړي زیاته کړه: «دا دوه کاله مو مخکې شاړې پاتې وې . د یوه ماین په چاودنه کې مې زوی تپي شو له وېرې مې شفاخانې ته نه شوای ببولای »

د هغه پر ویینا غوښتنه یې داده چې د تصویر چاپوونکو او دغه شان خالد اونقیب الله چې تصویرونه یې اخیستي دي محاکمه شي او پوښتنه دې ترې وشي چې ولې یې دا کار کړی دی ؟

خو په پېښور کې یوه خبریال رحیم الله یو سفزي ویلي چې په اکسپرس ورځپاڼه کې دملاعمر په نوم چاپ شوی عکس دملا عمر عکس دی

نوموړی وایي چې دغه عکس په ۱۳۵۷ کال کې کله چې ملا عمر دکندهار په سنګیسار سیمه کې دوخت دد ولت پر ضد په عملیاتو بوخت و، اخیستل سوی دده پر اند ګل آغا کیدای شي چې ملاعمر ته ورته خیره ولري.

خو ګل آغا وایي چې په دې اړه ډیر اندیښمن دی او له دولت ځخه دا هیله لري چې له امنیتي پلوه ورته ډاډ ورکړل شي.

د کندهار د ډنډ ولسوالي اوسېدونکی او ددغه ولایت د علماوو دشورا غړي مولوي محمدسلیم په دې اړه وویل چې ده او ګل آغا له ولس مشر حامد کرزی سره لیدلي او په دې اړه یې ورته ډاډ ورکړی دی.

سلیم زیاتوي: «له ګل آغا او شهزاده سره ډیر ظلم شوی ،ځوک چې په دې کار کې لاس لري باید جزا ورکړل شي »

دکورنیو چارو وزارت ویاند لطف الله مشعل وویل چې په دې اړه یوازې د مطبوعاتو له خوا خبري شوی او که ګل آغا ورته مراجعه وکړي له تصویر اخیستونکو او چاپوونکو سره به قانوني چلندوشي

دافغانستان اسلامی جمهوریت
دانتخاباتو دشکایتونو کمیسیون

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

ECC

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

شما میتوانید درمورد واجد شرایط بودن کاندیدان درانتخابات ولسی جرگه و شورا های ولایتی اعتراض نمایید.

- وره نامزدی کاندیدان به تاریخ دوم جوزا به اختتام انجامید.

بیشتر از6000 افغان در سرتاسر کشور تصمیم گرفتند تا خود را بحیث کاندید در انتخابات ولسی جرگه وشورا های ولایتی که بتاریخ 27 سنبله برگزار میگردد، لست نام نمایند.

لست ابتدایی افرادیکه جهت نامزدی درخواست نموده بودند سرانروزشنبه مورخ 14 جوزا الی پنجشنبه 19 جوزا درتمام دفاتر ولایتی دفتر مشترک تنظیم انتخابات و همچنان در سایر اماکن عامهٔ مراکز ولایات نصب خواهد شد.

کلیه افغان ها ازادی کامل دارند تا به دفاتر ولایتی دفتر مشترک تنظیم انتخابات جهت مشاهده این لست مراجعه نمایند.

هر گاه شما ملاحظه کرنید که یک کاندید مشخصی که شامل لست ابتدایی کاندیدان است. اما به دلیل عدم مطابقت با معیارات تعیین شده درقانون انتخابات مثلا : نداشتن تابعیت افغانی، ویا محکومیت به کدام جرمی، نباید شامل لست باشد. میتوانید تصمیم بگیرید تا علیه وی اعتراض نمایید.

سرانروز شنبه 14 جوزا الی پنجشنبه 19 جوزا شما امکان خانه پری وتسلیم نمودن یک فورمه اعتراض را که به کمیسیون شکایات انتخاباتی ارسال خواهد شد در اختیار خواهید داشت. این ارگان مستقل تمام اعتراضات را الی تاریخ دهم سرطان مورد رسیده گی قرارداده و در مورد لست نهایی کاندیدان تصمیم اتخاذ مینماید.

وره اعتراضات فرصتی را برای افرادیکه منفعتی مشروع در پروسه انتخابات داشته باشند فراهم میسازد تا اعتراضات خویش را علیه کاندیدان انتخابات ولسی جرگه وشورا های ولایتی ارائه نمایند.

معلومات درمورد تماس با کمیسیون شکایات انتخاباتی

دفتر مرکزی کمیسیون شکایات انتخاباتی در محوطه انتخابات در سرک جلال آباد واقع میباشد. شما میتوانید با کارمندان کمیسیون شکایات انتخاباتی به آدرس های ذیل نیز در تماس شوید:

ایمیل آدرس: xxx@yyyyy.xxx
تیلیفون: ۰۷۰۲۲۲۸۹۲، یا ۰۷۹۳۱۸۸۸۱
تیلیفکس: ۰۷۰۱۰۹۶۱۷۵

معیارات اوصاف و واجد شرایط بودن

در ارزیابی کاندیدی یک شخص، رهنمود های ذیل را باید مد نظر گرفت:

- مطابق قانون اساسی افغانستان و قانون انتخابات، یک شخص برای کاندید شدن باید دارای معیارات ذیل برای واجد شرایط بودن باشد:

۱. تبعه افغانستان بوده و یا تابعیت را حد اقل ده سال قبل از ارائه درخواستی برای کاندید شدن حاصل نموده باشد.

۲. مرتکب جرایم ضد بشری و دیگر جرایم نبوده و یا از حقوق مدنی توسط محکمه محروم نشده باشد.

۳. در زمان ارائه درخواستی برای کاندید شدن در انتخابات ولسی جرگه حد اقل به سن 25 ساله گی و در انتخابات شورای ولایتی به سن 18 ساله گی رسیده باشد.

۴. مطابق طرزالعمل های دفتر مشترک تنظیم انتخابات محیث رأی دهنده ثبت نام شده باشد.

بر علاوه، یک تعداد از کارمندان دولتی و انتخاباتی نمیتوانند خود را کاندید نمایند، مگر اینکه از وظایف شان استعفا دهند.

بالاخره، اشخاصیکه فرماندهی نیروهای غیر رسمی و یا گروههای نظامی را در دست داشته یا به آنها منطق باشند، نمیتوانند در انتخابات خود را کاندید نمایند.

مطابق احکام قانون، اعتراضات علیه واجد شرایط بودن یک کاندید صرفاً محدود به این معیارات است.

متصدی: ناجیه "امید" و حسیب

زن را، مادر را، ستایش کنیم!

انجمن فعالین حقوق زنان ترکمن افغانستان ایجاد شد

عاقله هارون معاون انجمن فعالین حقوق زنان زنان ترکمن گفت: هدف از ایجاد این انجمن تشویق زنان به سهمگیری در فعالیتهای اجتماعی، سیاسی واقتصادی وتعلیمی بوده و ازطریق این انجمن تلاش خواهد شد، تا دختران ترکمن از نعمت سواد و تحصیل مستفید شده و بتوانند در مقابل عنعنات ناپسند، چون ازدواج های اجباری دختران ودستیابی زنان به خدمات صحی و بهداشتی تلاش های مثمر را انجام دهند.

داکتر مسعوده جلال وزیر امور زنان ایجاد این انجمن را یک گام ارزشمند در راستای مساعد شدن زمینه وامکانات برای وسعت بر آوردن خواستها وحقوق زنان کشور وبخصوص زنان ترکمن گامهای عملی را بردارد.

زنان ترکمن که اکثراً باشنده گان یکتعداد ولایت شمال کشور اند، از زنان با سواد ترکمن وفعلاً باشنده کابل است گفت: نه تنها زنان و دختران ترکمن بلکه بصورت عموم زنان ودختران در افغانستان بامشکلات عدیده مواجه اند. وی با یاد آوری از اقتصاد ضعیف خانواده

وقالینچه های افغانی محصول عرق ریزی وتکلیف شبا روزی آنها می باشد.

جمیله ترکمن که یکتن ها، موجودیت رسم ورواج های خرافاتی، تعصبات بی جا وبی مورد، از دواجهای اجباری، کار وفعالیت بیش از حدو اندازه، جلوگیری از آموختن درس و تعلیم دختران وزنان، گفت: این مشکلات در اکثر مناطق افغانستان دا منگیر زنان ودختران افغان بوده ودر میان مردم ترکمن با آنکه زنان ودختران بیشترین زحمت و تکلیف را در تولید قالین متحمل می شود از کمترین حقوق خویش مستفید نمی شوند.

از وی در رابطه به اهمیت ایجاد انجمن فعالین حقوق زنان پرسیدم، نامبرده گفت: ایجاد انجمن ها واین انجمن اقدام نیک است، اما زمانی موثر و مفید تمام می شود، که مردان و مسوولین دولتی هم در قسمت حقوق زنان و دختران بطور هماهنگ با همچو نهاد ها کار نماید.

اوضاع کنونی افغانستان می تواند زمینه رعایت حقوق بشر را در کشور فراهم نماید

انیسه اصرار عضو موسسات و ادارات مسلکی ریاست عمومی تفتیش وزارت عدلیه، که از جمله شاملین ورکشاپ رعایت حقوق بشر در زندانها بود، در مصاحبه با خبرنگار ما ضمن اظهار مطلب فوق گفت: (رعایت حقوق بشر در زندانها) عباره در خور تفکر و دقت است.

اصرار علاوه نمود، که زندان، محل یا جای گاهیکه انسان جهت مجازات تادیب و تربیه مجدد مجرمین و برگشتاندن وی بطور فرد سالم و مثبت به جامعه می باشد. اما در افغانستان زندانها مفهومی غیر از این معنی را داشته وزندان یابندی خانه به جای مخوف، وحشت زا و محل آموزش فساد و تباهی مبدل گردیده. وممکن در تشویق و آموزش بهتر امور و فنون ارتکاب جرایم مجدد زندانی نقش آموزش گاهی را داشته باشد، بناءً عباره (رعایت حقوق بشر در زندانها) در این مرحله خاص زمانی در کشور ما قابل ملاحظه ودقت می باشد.

انیسه اصرار اظهار داشت، که اوضاع واحوال سیاسی کنونی افغانستان همه وهمه میتواند زمینه رعایت حقوق بشر را در کشور فراهم نماید. ایجاد کمیسیون حقوق بشر تشکیل و تاسیس ازمردم افغانستان نیز در زمینه رول مهم را می تواند بازی کند. اما رعایت حقوق بشر در زندانها یعنی محل نگهداشت مجرمین قابل ملاحظه است. واین موضوع ایجاد آموزش بهتر ودادن آگاهی کامل برای (زندان بانها) را می نماید.

موصوف گفت: د ولت به همکاری جامعه بین المللی تلاش می نماید تا وضع حقوق بشر را در همه بخشهای حایت مردم افغانستان بهبود بخشد. و با وضع قانون حیات جدید در مورد زندانها و توقیف خانه ها و تسجیل مواد مفید رانسان دوستانه، گامی را برداشته است، که امیدواری پیدا می شود، تا بتوانند اصول و مقررات انسانی در زندانها و توقیف خانه ها رعایت گردد. ودر کنار تطبیق این قانون، تدویر سیمینار های توضیحی وآموزشی گام ا رزنده می باشد.

تدویر ورکشاپ

بمنظور ارتقا مشارکت سیاسی زنان ونقش بیشتر ایشان در انتخابات پارلمانی ورکشاپی در وزارت امور زنان دایر شد

در آغاز ورکشاپ داکتر مسعوده جلال وزیر امور زنان نقش ریاستهای امور زنان را در بسیج نمودن زنان به مشارکت سیاسی وسهم گیری آنان در انتخابات پارلمانی با اهمیت خوانده از مسوولین آنوزارت تقاضا نمود، که در تشویق بیشتر زنان غرض سهمگیری فعال در شوراهای ولسوالی، ولایات پارلمان توجه جدی نموده و پیامدهای مثبت سهمگیری آنانرا برای آینده زنان توضیح دهند.

همچنان در این ورکشاپ روسای امور زنان ولایات وسایر زنان اشتراک کننده در رابطه به سهمگیری فعال زنان، مشکلات موجود در مقابل زنان در اطراف کشور، راه های حل مشکلات نظریات وپیشنهادات شانرا ارائه نمودند.

زنان ولایت کنر با مشکلات جدی صحی مواجه اند

باشنده گان ولایت کنر از نبود داکتران اناث در مرکز و اطراف آن ولایت شکایت داشته و میگویند، که آنها مریضان اناث شانرا غرض تداوی به جلال آباد و یا پشاور انتقال میدهند.

نورالله باشنده ولسوالی نرنگ ولایت کنر، که خانمش را غرض معاینه به اسعد آباد مرکز ولایت کنر آورده بود به خبرنگار ما گفت: به امید اینکه خانمم در مرکز ولایت تداوی شود، ویرا به شفاخانه مرکزی ولایت آوردم، اما نبود داکتران اناث در این جا، مرا نا امید ساخت.

وی علاوه نموده که قبلاً در این شفاخانه یک داکتر زنانه بود، اما بجای آنکه تعداد آنها زیاد می شد، برخلاف همان یک نفر هم حالا وجود ندارد.

از اوپرسیدم، که حالا چه تصمیم دارد؟ گفت: مجبور هستم که خانمم را به جلال آباد و یا پشاور انتقال دهم، زیرا تکلیف وی زیاد است وباید داکتر زنانه ویرا معاینه و تداوی نماید.

حاجی گل محمد درحالی که مریضش را در کنار دیوار تکیه داده بود، گفت: ده ها خانم ودختر در اطراف ومرکز ولایت کنر نسبت نبود داکتر تداوی نمی شوند واکثراً از اثر مریضی هلاک می شوند، که قابل تداوی می باشد.



وی علاوه نمود، که عدم موجودیت داکتر زنانه و ضعف ا قتصادی دوعامل اساسی هلاکت خانمهای مریض در این ولایت است. زیرا یکتعداد انگشت شمار می توانند مریض شانرا از مناطق دور دست وکوهستانی به جلال آباد ویا پشاور انتقال دهند.

کریمه خانم حاجی گل محمد، که وضع نه چندان خوب داشت بجواب سوالی، که چه تقاضایی از دولت در زمینه دارد؟ گفت: حاجت به تقاضای من و یا سایر زنان نیست دولت و مسوولین دولت، خود خوب میدانند، که زنان چه مشکل دارند و چه باید بکنند، اما اینکه نمی خواهند اگر ما بگوییم وبخواهیم، هم بی نتیجه است. من فقط از دولت می پرسم، که میلیوها دالر پول خیرات دنیارا چه کردند ودر کجا مصرف کردند؟

شفاخانه اسعد آباد یگانه شفاخانه در ولایت کنر است، که از مراکز و مناطق دور دست ولایت نورستان وکنر، مریضان به آن مراجعه می نمایند.

این شفاخانه دارای چهل بستر می باشد و به گفته مسوولین آن یک نفر داکتر زن در آنجا توظیف بوده، اما نسبت مریضی موصوف وظیفه را ترک نموده است

عوامی نشنل گوند...

د عوامي نېشنل ګوند مشر اسفندیار ولي خان خبري غونډې ته وویل چې د افغانستان او پاکستان تر مینځه اړیکې د ځینو تاریخي عواملو له امله له پخوا څخه پېچلې وی خو دده پر وینا د پاکستان د ناقص او د واقعیت نه د لرې پالېسیو له کبله دغه پېچلتیا لا پسې ډېره شوې ده. نومورې ددواړو هیوادونو تر مینځ د تل پاتو ټولنیزو او اقتصادي اړیکو د ټینګولو د پاره د نېشنل ګوند د دریځ په توګه دغه وړاندیزونه وکړل.

#ددواړو هیوادونو وګړي باید دا اجازه ولري چې بې له پاسپورټه دیوبل هیواد ته تګ راتګ وکړي.

دتورخم اوچمن سربېره دناواپاس، ارندو، غلام خان، انګورو اډه او قمردین کاریز د لارې نه دې هم د تجارتي تګ راتګ دپاره کار واخېستل شي. داورګاډي په لیکه دې دواړه هیوادونه ونښلول شي.

دپېښور او کابل تر مینځ دې الوتنې پیل شي. ددواړو هیوادونو تر مینځ دې د موټرو تګ راتګ پیل شي. دواړه حکومتونه باید داولس په سطح دیو بل هیوادونو ته تګ راتګ ته تشویق کړي.

د پاکستان مطبوعات باید د افغانستان پر ضد منفي تبلیغات بند کړي. پاکستان باید هاغه منفي لست ختم کړي چې تر مخه یې افغانستان نه شي کولی ځیني توکي د کراچۍ د بندر د لارې افغانستان ته وارد کړي.

د کابل، جلال اباد، خوست او کندهار پوهنتونونه باید د پېښور، ډېره اسماعیل خان او کویټې له پوهنتونو سره په اکاډمیکه ساحه کې د همکارۍ اړیکې ولري.

ددواړو هیوادونو په زندانونو کې پراته بې ګناه بندیان دې خوشي کړای شي او د افغان مهاجرینو څخه دې د جنګ د خشاک په توګه استفاده نه کیږي.

اسفندیارولي خان له خبري غونډې وروسته پژواک ته ویل: «مونږ دامهال افغانستان په دولت اودهغې په پالېسیو کې دا سې څه نه وینو چې اختلاف ورسره وکړو.» د پاکستان د بشري حقوقو دسازمان د پخواني مشر او د عوامي نېشنل ګوند اوسني غړي افراسیاب ختک نظر بیا دا و، چې که د دوی د ګوند په وړاندېزونو افغانستان او پاکستان غور وکړي نو ددواړو هیوادونو لپاره ددوی خبرې ګټورې دي.

نومورې زیاته کړه «حالات بیخي دې ته چمتو دي چې ددواړو هیوادونو وګړي په خانګړې ډول پښتانه داسې سره رانژدې شي لکه د ځینو نورو هیوادونو چې په دې وروستیو کې سره نزدې شوي»

«عوامي نېشنل ګوند ته راغلي نوي غړي، قانون پوه او قبایلي مشر عبدالطیف افریدي پژواک ته ویل چې ددوی غونډه د لر او بر افغان د یو بل ته د نژدې کېدو په اړه شوې ده، نومورې وړاندې وویل «هاغه خندونه چې د لر او بر افغانان یې دا مهال اغېزمن کړي دي دعوامي نېشنل ګوند دوړاندېزونو له امله تري خلاصون موندلی شي»

«په پېښور کې د افغانستان سرقونسل عبدالخالق فراهي د عوامي نېشنل ګوند د همکارۍ نه منه وکړه او دوړاندېزونو په هکله یې وویل «دا د افغانستان ددولت کار دی چې په دغو وړاندېزونو غور وکړي. یقینا چې په دې کې مثبت وړاندیزونه زیات دي» څو میاشتې وړاندې دافغانستان ولسمشر حامد کرزي دنومورې ګوند ددوو سپین ږیرو مشرانو خان عبدالولي خان او اجمل ختک دروغتیا پوښتنه کړې وه او په پېښور کې دافغانستان دسر قونسل له لارې یې ورته دنیکو هیلو خط لیږلی و

ځینې وسله وال لا شته چې د...

بله دا چې په دغه خپور شوی لست کې ډېر کاندیدان داسې دی چې لا تر اوسه پورې په خپلو ولایاتو کې نه یوازې دا چې یواځې زور لري بلکې ددولت له خوا. دخلکو دانتقادونو او غوښتنو سره سره دمسوولیت څوکۍ هم ورکړل شوی دي چې اوس غواړي چې ځانونه دپارلمان تر څوکیو پورې ورسوي.

په داسې کاندیدانو کې لا اوس هم داسې کسان شته چې دمرکزي اداري د اوامرو خلاف خپل ځانونه دخپلواك تصمیم درلودونکی بولي په انتخاباتودځینو اشخاصو دګډون مخه نیسي اوهیڅکله ډې ته نه حاضریږي چې دمرکزي اداري په او امرو د تبدیلي لپاره ځانونه اماده او تیار کړي که چیرې داسې خپل سري او دخان په ګټه دقانون دماتولو اتلان!! موجود وی ویلای شو چې دا انتخابات به تر پرون زیات پیچلي او له ستونزو ډك وی او دداسې کاندیدو قوماندانان په شته والی کې به دخلکو لپاره دازادو رایو د ورکولو زمینه برابره نشي او دقانونیت په له منځه وړلو سره به زمونږ ددموکراسي په هکله غږونه یوازې په کاغذ کې پاتې شي.

سناتور امریکایی...

این اظهارات دو روز پس از آن صورت گرفت که پنتاگون وقوع بی حرمتی به قرآن مجید از سوی محافظان زندان گوانتانامو را تایید کرد.

سازمان عفو بین الملل، ماه گذشته این زندان را "گولاگ دوران ما" خواند. این توصیف، به اردوگاههای کار اجباری در دوره شوروی سابق اشاره داشت که میلیونها زندانی در آن جان خود را از دست دادند.

دانالد رامسفلد، وزیر دفاع آمریکا گفت که این مقایسه "شرم آور" است.

گزارشگر بی بی سی در واشنگتن می گوید سناتور بیدن، در مقام عضو حزب مخالف دولت تنها می تواند نفوذ اندکی بر سیاستگذاری ها داشته باشد، با وجود این سخنان او بازتاب بحثی چالش برانگیز در محافل آمریکا درباره نحوه رفتار با زندانیان و تاثیر این رفتار بر چهره آمریکا در جهان است.

دری سرتیري...

د طالبانو ددغه کمین په ترخ کې د ملي پولیسو د خواکونو دری تنه سرتیری چې د بهرنیو کارکوونکو د ساتنې دنده یې پر غاړه درلوده ټپیان شوی دی چې د یو سرتیری روغتیایی حالت نازك بڼودل شوی دی.

دوه تنبتول شوي ماشومان...

فراهي پژواک خبري آژانس ته ویلي «زه په پاکستان کې دافغان کډوالونه هیله کوم چې کله دوی په خپلو کمپونو کې داسې شکمنو کسانو سره مخامخ کیږي نوژرترژره دې مورږسره په تماس کې شي» هغه زیاته کړه چې دوي ته دغه دوه ماشومان پاکستاني پولیسو سپارلي وو او دوی بیا نومورې ماشومان خپلو پلرونو ته وسپارل ددې پر وینا چې دا ماشومان به له پلرونو سره یوځای ترافغانستان پورې رسوي.

دیو تنبتول شوي ماشوم پلار نظام الدین دپاکستان له پولیسو او دافغانستان قونسلګرۍ څخه منه وکړه چې دوی قدم په قدم ددوی دزامنو په ژغورنې کې خپل رول لوبولی دی.

هغه وویل «پولیسو زمونږ دزامنوژوند له مرګ نه وژغوره او د ژورنالستانو یې غږ ترمونږ راورساوه او قونسلګرۍ روغ او سلامت راتسلیم کړل.»

دبل تنبتول شوي ماشوم شریف الدین پلار نجم الدین په داسې حال کې چې دخوشحالۍ اوښکې یې له سترګورانو وي وویل «نن زمونږ مړي راژوندي شول داخومونږته مړه وو زمونږ په کورونو کې ددوی دمرګ په ویرتوله ژړل نه پوهیږم چې ویښ یم که ویده باور مې نه راته چې اوبووړی زلمی زوی مې دې لاس ته راشي.»

قوماندان بشیر با فیصله های...

مسوولین امنیتی ولایت تخار محمود خان را به تاریخ ۷ جوزا به اتهام تجاوز بر عفت دختران دستگیر نموده است.

در همان روز، صد ها مرد و زن بر منزل قوماندان محمود خان حمله نموده و خواهان گرفتاری و محاکمه او شده بودند که طی برخورد با افراد این قوماندان، چهار مظاهره کننده کشته شدند، اما مسؤولین ولایت تخار، صرف جراحت سه تن را تائید کرده اند. این درحالیست که سکرتر عبدالکبیر مرزبان والی تخار گفته است: «یگانه کسی که در تغییرات اداری هیئت دولت مخالفت میکند، قوماندان بشیر خان چاه آبی است که ما با وصف گفتگو با وی موفق نگردیده ایم او را قناعت بدهیم» وی افزود که هنوز تشکیلات اداری، در ولسوالی های چاه آب، رستاق و دشت قلعه اعلان نه شده است. علت به تعویق افتیدن این تشکیلات را مخالفت قوماندان بشیر خان، دانست عبدالمالک صدیقی رئیس هیئت اعزامی دولت میگوید که آنها بعد از بازدید با تظاهره کننده گان در ولسوالی رستاق، خلیل الله آمر تخنیک قوماندانی امنیه ولایت تخار را موقتاً بحیث سرپرست ولسوالی رستاق توظیف کرده اند. یکعده مردم در تظاهرات ۱۱ جوزا خواهان دستگیری قوماندان پیر امفل یکتن از قوماندانان محلی وبرطرفی ولسوال وقوماندان امنیه ولسوالی رستاق شده بودند.

همچنان صد ها تن به تاریخ ۱۱ جوزا در ولسوالی دشت قلعه مظاهره نموده و ولسوال و قوماندان امنیه را متهم به فساد اداری و توزیع یکصد باب دکان آباد شده دولتی به وابستگان شان نموده بودند به ادعای مظاهره کننده گان. آنها دفتر ولسوالی را قفل زده و هشدار دادند که مسؤولین آن ولایت باید ولسوال و قوماندان امنیه این ولسوالی را برکنار نمایند.

مسؤولین ولایت تخار به مظاهره کننده گان، وعده نموده اند که آنها این دو تن را در صورت اثبات جرم، برکنار خواهند کرد.

د پکتیکا والی له پاکستان...

دپکتیکا والي ګلاب منګل په یوه ځانګړې مرکه کې ددغه مطلب په اعلان سره زیاته کړه چې په دې سربیره هغه طالبان چې په پکتیکا کې دپخلاینې له بهیر سره یوځای کیږي دسخت دریځو طالبان له لوري له ګواښ سره مخ دي.

ده زیاته کړه: «مونږ هم په مقابل کې دپاکستان سره په پرته پوله په ځینو حساسو ځایونو کې نوې پوستې ځای په ځای کړې دي.»

د منګل پر وینا دوی هم ددغو نویو ګروپون له را داخیلیدو وروسته په خپل ولایت کې له ملي اردو سره ګډې ګزمې پیل او زیاتې کړې دي اونوې پوستې یې د ولایت دتروې او وړمې په ولسوالیو کې جوړې کړې دي.

ده زیاته کړه چې دغه ګروپونه وسله وال دي اوپه پنځه کسیزو ډلو کې ځینو ولسوالیو ته راغلي دي او دوي به هم په دې اړه په راتلونکې تصمیمونه ونیسي.

دپکتیکا والي زیاته کړه «که پاکستان دطالبانو دفعالیتونو په مخنیوي کې بشپړ قاطعیت وښیي نو اخلاص به یې ډیر اثر ولري.»

ده په تیره دپاکستان دسرحدي سیمو چارواکو ته په اشاره سره وویل چې هغوی کولی شي چې دهغوي مرکزونه بند اودښوونې اوروزنې مخنیوی یې وکړي.

دده په اند طالبان دتیرکال په پرتله سر کال کمزوري شوي دي خو بیاهم دوی دخپلوګټو دلاس ته راوړلو اودخپل موجودیت ډنبو دلو په خاطر په داسې څه لاس پورې کوي.

له هغه وروسته چې په افغانستان کې دطالبانو واکمني رانسکوره شوه پکتیکا دافغانستان د هغو ولایتونو څخه دی چې زیاتره وخت په کې طالب جنګیالي دائتلاف اوافغان دولت خواکونه تربریدونولاندې نیسي

تیره ورځ دغبرګولي په ۱۴مه ائتلافي خواکونوبیاخبرورکړې چې په دغه ولایت کې درې امریکایان اودهغوي یوژباړونکی په یوه بریدکې مړه اوټپیان شوي دي

مدیر مسوول هفته نامه ...

وی علاوه کرد: «احساس کردم که یک نفر نزدیکم شد تا برگشتم بسیار سریع مشتی به طرف چپ رویم زد، که به پشت افتاده و بیهوش شدم.»

وی می گوید که این حادثه بسیار سریع رُخ داده است و او نتوانسته که افراد را شناسایی کند.

به اساس معلومات وی، بر اثر این حادثه صورتش پنج کوک خورده است و موضوع در اداره پولیس کانادا تحت بررسی قرار دارد.

داکتر صبور سیاه سنگ یکی از نویسندگان و سناریست مقیم شهر ری جاینای کانادا به پژواک گفته است که با داستانی که آفتاب در عقب خود داشت این حادثه محتمل بود که در این جا به وقوع بپیوندد. رحیم الله سمندر مسؤول کمیته دفاع از ژورنالیستان افغانستان گفت: «با شنیدن این خبر معلوم می شود که دشمنان آزادی مطبوعات در افغانستان، آنقدر دست های باز و قوی دارند که به مهدوی در کانادا نیز حق زندگی نمی دهند.» وی افزود که آنها کوشش خواهند نمود تا، با همکاری مهدوی، دولت افغانستان وسفارت کانادا در کابل عاملین این حادثه را شناسایی کنند و خواستار مجازات آنها شوند.

هفته نامه آفتاب در سال ۲۰۰۱ در کابل برای اولین بار نشر شد، و در مدت تقریباً دوسال فعالیت با نشر مطالب انتقادی علیه دولت، کار خود را ادامه داد، اما بعد از نشر مقاله هایی با عناوین «فاشیزم مقدس و دین + سیاست استبداد»، کار آفتاب در کابل پایان یافت. شماره اول این نشریه بانام «آفتاب در تبعید» به تاریخ ۱۵ ثور (۵ می) در کشور کانادا به عنوان ماهنامه به نشر رسید.

مهدوی می گوید که بعد از این حادثه تصمیم دارد نشریه آفتاب در تبعید را هر هفته به چاپ برساند.

مشکل شهرک ده سبز...

این در حالی است که دولت پیهم اعلام نموده ومی نماید که به جز از دو شرکت (شهرک ده سبز و شهرک بیناد انکشاف ملی) دیگر شرکت ها به طور غیر قانونی به توزیع زمین و اعمار شهرک اقدام نموده اند واین شهرک ها تخریب خواهد شد.

سید همایون علاوه نموده که درکنار کار انجام شده در ده سبز، کار باقی مانده اعمار شهرک از سوی کمپنی های خارجی و افغانی انجام خواهد شد.

به گفته وی تاکنون بیش از دوصد میلیون دالر در این شهرک سرمایه گذاری شده است

سرمایه گذاران و اهالی شهرک ده سبز که به اعمار خانه هادر آن منطقه پرداخته اند با تخریب خانه های اعمار شده مخالفت نموده و گفته بودند که آنها حتی با قیمت ریخته شدن خون شان از خانه هایشان حفاظت می کنند.

ERADA Daily

اراده

زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
معاون: سهراب دیدار

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان، سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
تیلفون موبایل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan(Mobil phone :070224787)
Deputy: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
eradadaily@hotmail.com

قیمت یک شماره ۳ افغانی